هفته واره رساله:362
WEEKLY BOOKLET:362

د امیرِ اهلِ سُنّت دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَه د کتاب "نیکی کی دعوت" یو قسط

# د نیکۍ

## دعوت څنګه ورکول پکار دي؟

PASHTO




د نیکۍ په دعوت کښې نرمي ضروري ده 03
په شرابي باندې د انفرادي کوشش کولو نتیجه 06
نشه کګوره 12
د بدو خبرو نه منع کوئ کنې........! 14


شیخِ طریقت، امیرِ اهلِسُنّت بانئِ دعوتِ اسلامي، حضرت علّامه مولانا ابو بلال
محمد الیاس عطّار قادري رضوي دَامَتْ بَرَکَاتُہُمُ الْعَالِیَه

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖن ط

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

دا مضمون د کتاب "**نیکی کی دعوت**" د صفحه 497 تا 510 نه اخستے شوے دے

# د نیکۍ دعوت څنګه ورکول پکار دي؟

**دُعائے عطّار:** یا رَبَّ الْمُصطفٰی! څوک چې دا رساله "**د نیکۍ دعوت څنګه ورکول پکار دي؟**" ولولي یا واوري، هغه نرم مزاجه او خوږې خبرې کوونکے جوړ کړې او سره د مور و پلار یې بې حسابه وبخښې.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## د دُرُود شریف فضیلت

**د آخري نبي** صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان دے:** چا چې په ما باندې 100 ځله درود شریف ولوستو، **اللّٰه** پاک د هغهٔ د دواړو سترګو تر مینځه ولیکي چې دا د نِفاق او د دوزخ د وور نه ازاد دے او هغه به په ورځ د قیامت د شهیدانو سره ساتي."

(مجمع الزوائد، 253/10، حدیث: 17298)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د نیکۍ دعوت پریښودونکے د حُضُور ﷺ په طریقه نهٔ دے

د حضرت سَیِّدُنا **عبدُالله** اِبنِ عبّاس رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُمَا نه رِوایت دے چې د سردارِ مکهٔ مُکرَّمه صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد دے: **لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَمْ يَرْحَمْ صَغِيْرَنَا وَيُوَقِّرْ كَبِيْرَنَا وَيَأْمُرْ بِالْمَعْرُوْفِ وَيَنْهَ عَنِ الْمُنْكَرِ** یعني هغه زمونږ نه نهٔ دے څوک چې زمونږه په **ماشومانو** رَحم اُونکړي او د **مشرانو** عِزّت اُونکړي او **د نیکۍ حُکم** اُونکړي او د بدۍ نه منع اُونکړي. (سُنَنِ ترمذی ج3 ص370 حدیث1928)

## د نيکۍ دعوت صِرف په عُلَماء نه، په عوامو هم لازِم دے

مشهور **مُفَسِّر حَکِیمُ الاُمَّت** حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دي حَدِيثِ پاک د الفاظو "**د نيکۍ حُکم** اُونکړي او د بدۍ نه منع اُونکړي" نه لاندې فرمائي: هر کس دې د خپل طاقت او د خپل عِلم مطابق دِيني اَحکام په خلقو جاري کړي. دا صِرف په عُلَماء فرض نه دي بلکه په ټولو لازِم دي، حاکم دې په لاس د بدۍ نه منع وکړي، عالِم دې په ژبه دا فرض پوره کړي. په دې زمانه کښې په دې باره کښې ډير غفلت دے. (مِراةُ المناجيح ج6ص416)

میں نیکی کی دعوت کی دھومیں مچاؤں تُو کر ایسا جذبہ عطا یا الٰہی

د نيکۍ دعوت چې خور کړم په دُنيا کښې ما ته کړې داسې جذبه را عطا يا اِلٰهي

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيب! ❁❁❁ صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## اَعرابي چې کله په جُمات کښې بَول وکړل........

**حضرت** سَيِّدُنا اَنَس رَضِيَ اللهُ عَنْه فرمائي چې يو ځل مونږ د حضورِ انور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سره په جُمات کښې موجُود وو، يو اَعرابي (يعني د کلي اوسيدونکې يو سړے) راغلو او په جُمات کښې ئې په ولاړه واړه بَول [يعني تشي متيازې] کول شروع کړې. د جَنابِ رِسالت مآب صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اصحاب رَضِيَ اللهُ عَنْهُم هغه ته آواز وکړو: صبر وکړه! حُضُور صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اِرشاد اُوفرمائيلو چې دے مه منع کوئ، پريږدئ. صحابهٔ کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُم خاموشه شو تر دې چې هغه بَول وکړل. بيا مُبَلِّغِ **اعظم** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم هغه را اُوغوښتو (او په نرمۍ او شفقت سره) ئې ورته اُوفرمائيل: "**دا جُماتونه د بَولو او د ګندګۍ د پاره نه دي**" دا خو صِرف د **الله** پاک د ذِکر، د نمانځه او تِلاوتِ قُرآن د پاره دي. بيا هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم چا ته د اوبو

راوړلو حُڪم وکړو، هغه د اوبو بوقه [يعني د کوهي نه د اوبو راوِيستلو لوښے] راوړو او په هغې (يعني د بَولو په ځائے) ئې اُوبهيوله. (صحيح مُسلِم ص164 حديث285)

## د نيکۍ په دعوت کښې نرمي ضروري ده

مشهور مُفَسِّر حَکيمُ الاُمَّت حضرت مُفتي احمد يار خان رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د دې حديثِ پاک لاندې فرمائي: ياد ساتئ (چې نَجِس يعني ناپاکه) زمکه اګر چې وچه شي نو پاکه شي (هله چې د نَجاسَت اثرات ترينه لرې شي) خو د زمکې وينځل ډير زيات بهتر دي ځکه چې د دې سره د ګندګۍ رنګ او بوئ هم زر لا ړ شي او په دې تَيَمُّم هم جائِز شي. په دې حديثِ پاک کښې د اوبو بوقه بهيولو سره دا خبره نه لازِمه کيږي چې ناپاکه زمکه ګنې د وِينځلو نه بغير نه شي پاکيدے. او په جُمات کښې د پاکۍ نه علاوه صفائي هم پکار ده او دا په وِينځلو حاصليدے شي. نور فرمائي: په دې کښې مُبَلِّغِينو ته د طريقهٔ تبلِيغ تعليم دے چې تبلِيغ په اخلاقو او نرمۍ کول پکار دي. (مِراٰةُالمناجِيح ج1 ص326)

## بَول کولو کښې ناځاپه د بندولو طِبّي نقصانات

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! کله چې څوک واړه بَول کوي هغه ته د وار خطا کولو په انداز کښې د غږ کولو او ويرولو نه بچ کيدل پکار دي ځکه چې واړه بَول کولو کښې د څه ويرې نه فوراً د بَولو بندولو په وجه طِبّي طور داسې سخت نقصانونه کيدے شي چې هغه د مار په چيچلو هم نه شي کيدے! واړه بَول په نيمه کښې د ودرولو په وجه د جُنون (يعني د ليونتوب او د بے هوشۍ د دَورو د راتلَلو) او د ګُردو هلاک کوونڪې بيمارۍ پيدا کيدے شي.

## په ولاړه بَول کول د سُنّتو خِلاف دي

په بيان شوي رِوايت کښې په ولاړه د بَولو کولو ذِکر شوے دے، په دې باره کښې عرض دے چې په ولاړه بَول [متيازې] کول د سُنّتو خِلاف دي چنانچه د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي ادارے مَکتَبَةُ الْمَدِيْنَه چاپ شوي د 1250 صفحو کتاب "**بهارِ شريعت**" جِلد اوّل صفحه 407 کښې دي چې: اُمُّ المُؤمِنِين حضرت سَيِّدَتُنا عائِشه صِدِّيقه رَضِیَ اللہُ تَعَالٰی عَنْہا فرمائي: څوک چې تاسو ته اووائي چې نبي کريم صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به په ولاړه بَول کول نو تاسو هغه رښتينے مه ګڼئ، حُضُور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به بَول نه کول خو په ناسته. (سُنَنِ تِرمِذی ج1 ص90 حديث12)

## په ولاړه د بَولو [يعني مِتيازو] کولو نقصانونه

افسوس! نن صبا په ولاړه د بَولو کولو رواج عام شوے دے خصوصاً په اِئر پورټ (AIR PORT) او نورو خاصو مقاماتو کښې په ولاړه د بَولو کولو مخصوص انتِظام هم وي. په دې طريقه بَول کول د **سُنّت** خِلاف هم دي او د دې طِبّي نقصانات هم وي چنانچه د طِبّي تحقيق مطابق په ولاړه د بَولو کولو سره د مثانے غُدود [په قلاره قلاره] اُوپرسيږي او د هغې په سبب واړه بَول په تکليف سره د راتلو، داره د نرئ کيدو، پۀ يو يو څاڅکي د راتلو بلکه د مِتيازو د بنديدو مرضونه پيدا کيدے شي. په ولاړه بَول کوونکي بعضې خلق د وِينځلو يا د وچولو نه بغير د پتلون بټن يا زنځير [چَين] بند کړي او د هغې په وجه د هغوئي په ورنونو د بَولو څاڅکي پريوځي، دغسې بے عُذره خپل بدن ناپاکه کوونکي د ګنهګاريدو سره سره په طِبّي لِحاظ هم په نقصان کښې اخته کيدے شي يو مُستشرِق (يعني داسې فِرنګي (يورپي کس) چې هغه د مشرِقي ژبو (مَثَلًا د اُردو وغيره ماهِر وي) ډاکټر جانټ مِلن (Dr. jaunt milen) وائي چې: د سُرِينو (يعني د

بدن هغه حصّه کومه چې د ناستې په وخت کښې په زمکه لږي) او د هغې د خوا و شا اِلرجي، د ورَنونو خارخت او د دانو او د نامه نه لاندې د خیټې د لاندینۍ حصّے د ځرمنې د ولاړیدو د بیمارئ او د پردے د مخصوص ځائے د زخم مریضان چې کله ما له راځي نو په هغوئي کښې اکثر هغه وي کوم چې د بَولو د څاڅکو نه ځان نه ساتي.

## د بَولو د څاڅکو نه د نه بچ کیدو عذاب

**حضرت** سَیِّدُنا ابي **بَکره** رضی اللہ عنہ فرمائي چې زه د حُضُور نبیِّ کریم، رءُوفٌ رَّحِیم صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم سره روان ووم او هغوئي صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم زما لاس نیولے وو یو سړے د هغوئي صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم چپ طرف ته وو. په دې کښې مونږه خپلې مخې ته **دوه قبرونه** اولیدل نو جنابِ رِسالت مآب صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم اُوفرمائیل: په دې دواړو **عذاب** کیږي او د څه غټې خبرې په وجه نه کیږي، په تاسو کښې څوک شته دے چې هغه ما له یوه څانګه راوړي. مونږ د یو بل نه د **مخکښې** کیدو کوشش وکړو نو زه مخکښې شوم او یوه څانګه مې راوړه او په خِدمت کښې حاضر شوم. هغوئي صلی اللہ علیہ وآلہ وسلم هغه دوه ټُکړې کړه او په دواړو قبرونو ئې یوه یوه کینښوده بیا ئې اِرشاد اُوفرمائیلو: دا چې تر څو **شنې** وي په دوئي به په عذاب کښې کمے وي او په دې دواړو د **غِیبت** او **بَولو** [یعني مِتیازو] په وجه عذاب کیږي. (مُسندِامام اَحمد ج7 ص204 حدیث:20395)

## آقا ﷺ ته عِلمِ غیب شته دے

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! تاسو اولیده! چې د **غیبتونو** او د مِتیازو د څاڅکو نه نه بچ کیدل د عذابِ **قبر** سَبَب دي. آه! زمونږه دا نازک بدن چې د معمولي شان ازغي لګیدو، د غرمې د نمر سیزل او تودوالے او د تبې معمولي

تکلیف نه شي برداشت کولے نو دا به د **قبر** سخت عذاب څنګه برداشت کړے شي. یا **اللّٰه** پاکه! مونږه په مِتیازو د ککړیدو د ګناهونو، د غِیبتونو، **چُغلۍ** او د هرې غټې وړې ټولو ګناهونو نه توبه کوو، اے **زمونږه خوږه مالِکه!** زمونږ نه د همیشه همیشه د پاره راضي شې او زمونږه بے حِسابه بخښنه وکړې.

اٰمِین بِجَاہِ خاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

د بیان شوي رِوایت نه دا هم معلومه شوه چې زمونږه خوږ آقا صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته **عِلمِ غیب** شته دے ځکه خو ئې د **اللّٰه** پاک په عطا سره د قبر عذاب اولیدلو څنګه چې د بیان شوي حدِیث پاک نه معلومه شوه. اعلیٰ حضرت، اِمامِ اهلِسُنّت، مولانا شاه **اِمام اَحمد رضا خان** رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه په **حَدَائِقِ بخشش شریف** کښې فرمائي:

سرِ عرش پر ہے تری گزر دلِ فرش پر ہے تری نظر
مَلَکُوت و مُلک میں کوئی شے نہیں وہ جو تجھ پہ عیاں نہیں

**شرحِ کلامِ رضا: یا رسولَ اللّٰه** صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! د عرش د پاسه او په فرش یعني زمکه کښې دننه هر یو څیز تاسو صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته ښکاره دے. په دُنیا جهان کښې داسې یو څیز نشته چې هغه تاسو صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ته ښکاره نه دے.

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰهُ عَلٰی مُحَمَّد

## په شرابي باندې د اِنفِرادي کوشش کولو نتیجه

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! په "نرمۍ" چې کوم کار کیدے شي هغه په "ګرمۍ" [یعني په غُصّه] نه شي کیدے او مُبَلِّغ ته خو پکار دي چې هغه د موم نه نرم او د واورو نه یخ وي، په رټلو او بے عِزّته کولو د چا اِصلاح کیدل مُشکل

دي. حُجَّةُ الِاسلام حضرت سَیِّدُنا اِمام مُحمّد بن مُحمّد بن مُحمّد غزالي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په "اِحیاءُ الْعُلُوم" کښې نقل کوي چې: حضرتِ سَیِّدُنا **مُحَمّد بِن زَکرِیا** رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: یو ځل زه د حضرتِ **عَبدُ الله** بِن مُحَمَّد بِن عائِشه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه خوا ته حاضِر شوم، هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د ماښام د نمانځه نه پس د جُمات نه کور طرف ته روان شو، په لار کښې ئې یو قُریشي ځلمے په نشه کښې اولیدو، هغه [ځلمي] یوه ښځه ونیوله، ښځې چغې جوړې کړې، خلقو رامنډه کړه او په هغه ځلمي ئې راکیښودل، حضرتِ سَیِّدُنا اِبنِ عائِشه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغه [ځلمے] اوپیژندو او د خلقو نه ئې خلاص کړو او په شفقت [یعني په مهربانۍ] ئې خپلې سینې ته راجوخت کړو، خپل کور ته ئې راوستو او اُوده ئې کړو. چې کله راوِیښ شو نو نشه ترینه تلې وه. هغه ته چې د نشې په حالت کښې د خپلې بے حیائې او وهلو خوړلو معلومات اوشو نو د شرم نه په ژړا شو او روان شو. حضرتِ سَیِّدُنا اِبنِ عائِشه رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغه حِصار کړو او ډیر د مهربانۍ په انداز کښې ئې هغه ته **د نیکۍ دعوت** ورکړو او احساس ئې ورکړو چې ځویه! تاسو خو قُریشي ئې، ستاسو خانداني شرافت مرحبا! دا سوچ خو وکړئ چې تاسو د څومره عظیمې هستۍ اولاد ئې! ځویه! د **الله** پاک نه وَیَرېږه او د شرابو د نشې او د نورو ټولو ګناهونو نه توبه وکړه. هغه ځلمي چې داسې د **محبّت** په انداز کښې **د نیکۍ دعوت** واوریدلو نو ډیر زیات شرمِنده شو او په ژړا ژړا یې توبه وکړه او وعده ئې وکړه چې د شرابو او نورو ګناهونو خوا له به هم نه ورځم. هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ډیر د مهربانۍ په انداز کښې د هغه تَندے ښکل کړو او حوصله ئې ورکړه. هغه بے حده مُتاثِّره شو او د هغوئي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په صحبت کښې اوسیدل ئې اختیار کړل او د حدیثونو په لیکلو باندې مُقرّر شو. (ماخوذ از احیاءُ العُلوم ج2 ص411)

ہے فلاح و کامرانی نرمی و آسانی میں ہر بنا کام بگڑ جاتا ہے نادانی میں
ڈوب سکتی ہی نہیں موجوں کی طُغیانی میں جس کی کَشتی ہو محمد کی نگہبانی میں

کامراني او کامیابي ده په نرمۍ او آسانۍ کښې هر جوړ شوے کار ورانیږي نادانۍ کښې
کله هم ډوبیدے نه شي په چپو کښې د طوفان چې کشتۍ وي د چا د محمد په نګرانۍ کښې

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## ما د هغه د قتل کولو نه پس خودکشي کوله....

خوږو او مُحترمو اسلامي ورونړو! د ګناهونو نه ځان خلاصولو د پاره، د نمونځونو د پابندۍ د ذِهن جوړولو د پاره، د مَکـي مَدَني آقاصَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم سُنّتو باندې د عمل کولو د پاره، په زړه کښې د عِشقِ رسول شمع بلولو د پاره، په جنّتُ الفِردوس کښې د ځائے حاصلولو د پاره او د وورِ د عذاب نه بچ کيدلو د پاره د **دعوتِ اسلامي دِيني ماحول** سره هر وخت خپل تړون مضبوط ساتئ. د سُنّتو ډکو **مَدَني قافِلو** کښې د سفر معمول جوړ کړئ او د **نیک اعمال** مطابِق د خپل ژوند شپې ورځې تیروئ. ستاسو د ترغیب او تحریص د پاره يو **مَدَني سپرلے** وړاندې کیږي. د يو مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي د بیان خُلاصه ده چې: ما ته په **مَدَني قافِله** کښې د سفر په دوران کښې په يو جُمات کښې د جُمعې د نمانځه نه مخکښې د بیان کولو سعادت نصیب شو، د بیان په آخِره کښې مې په جُمات کښې موجودو اِسلامي ورونړو ته د پریشانو د روحاني عِلاج د پاره د "تعوِیذاتِ عطّاریه" د حاصلولو ترغِیب هم ورکړو. يو صاحِب د مازدیګر د نمانځه نه پس زما خوا ته تشریف راوړو او خپله پریشانی ئې څه په داسې الفاظو کښې بیان کړه چې: **څه موده مخکښې زه د روزګار په سلسله کښې د پاکستان نه بهر ته تلے ووم، هلته د غلا او ډاکې وهلو په جرمونو او نورو غیر قانوني کارونو کښې مشغول شوم** بل طرف ته په پاکستان کښې زما په غیر موجودګۍ زما په کور کښې دا قیامت جوړ شو چې چا زما د بچو په مور باندې غلط او بے بُنیاده اِلزامونه اُولګول چې د هغې په نتیجه کښې هغې خودکشي وکړله، کله چې ما

ته د دې واقعې خبر راکړے شو نو زه ليونے شوم او فوراً پاکستان ته خپل کلي ته را ورسيدم. **د نفس و شيطان په دوکه کښې راغلم او زما په ښځه باندې د غلط تُهمت لګولو والا کس د قتل کولو او ورپسې مې پخپله هُم د خودکشئ کولو اراده وکړه.** ما د دې کار کولو بندوبست هم پوره کړے وو خو په دې جُمات کښې د جُمعې د نمانځه د ادا کولو سره سره ما ته ستاسو د بيان اوريدلو سعادت هم نصيب شو، د بيان په آخِره کښې چې تاسو د مُشکلاتو د حل د پاره د ”تعوِيذاتِ عطّارِيه“ حاصلولو ترغيب ورکړو د هغې سره زما اُمّيد پيدا شو. ستاسو بيان مې چې واوريدو نو زما د ګناهونو نه ډکې ارادې اوړقيدلې او ما دا فيصله وکړه چې تاسو ته خپله مسئله بيان کړم او څه داسې صورت اختيار کړے شي چې مار هم مړ شي او همسا هم ماته نه شي. [مُبَلِّغ دعوتِ اسلامي وائي] د هغه خبرې چې ما واوريدلې نو اول خو زه وَيَريدم خو بيا مې **الله** پاک و رسول صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ياد کړل او د موقعې په مناسبت سره د معاملې د حل کولو د پاره مې د **دعوتِ اسلامي** د اشاعتي ادارے **مَکتَبَۃُ الْمَدِيْنَہ** د سُنَّتو ډکو ليکلې شوو بيانونو د رسالو ”***غُصّے کا علاج، عفو در گزر کے فضائل*** او ***خُود کُشی کا علاج***“ نه په رهنُمائي اغستلو تقرِيباً د يوې ګينټې پورې په هغوئي باندې **انفِرادي کوشش** وکړو. اَلْحَمْدُلِلّٰه آخِر دا چې هغه اسلامي ورور د خپلې خطرناکې ارادې نه منع شو او دغسې **دوه قيمتي انسانان د ضائِع کيدو نه بچ شو،** د هغوئي په سترګو کښې اُوښکې راغلې او توبه ئې وکړه او سره د نابالِغه بچو د غوثِ پاک [يعني د پيرانِ پير صاحِب] رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه مُريد جوړ شو. د کور د حِفاظت او په کاروبار کښې د بَرَکت د پاره ئې ”تعوِيذاتِ عَطّارِيه“ هم حاصِل کړل. چې کله ما هغوئي ته په **مَدَنِي قافِله** کښې د سفر کولو ترغيب ورکړو نو هغه په لـمدو سترګو د ژړا په آواز کښې اُووئيل چې: ”اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم **اوس خو به زما ټول عُمر د دعوتِ اِسلامي په دِيني کارونو کښې تيريږي.**“

اے اسلامی بھائی نہ کرنا لڑائی　　کہ ہو جائیگا بد نُما مَدَنی ماحول
سَنور جائے گی آخرت اِن شاءاللہ
تم اپنائے رکھو سدا مَدَنی ماحول (وسائلِ بخشش ص ۶۰۴)

اے اِسلامي ورورہ مه کوه جګړې　　ګوره شي به بدنام دِيني ماحول
ښکلے به دې شي آخِرت اِنْ شَـآءَاللّٰه　　ته خپل کړه مُدام دِيني ماحول

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب!　صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## مُبَلِّغِين دې د جُمعې بيان کوي

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼو! د دې **مَدني سپرلي** نه د جُمعې د سُنَّتو ډک بيان بَرَکتونه معلوم شو، د **دعوتِ اسلامي** ټولو ذِمّه دارانو ته پکار دي چې کوم ځائے کيدے شي د بدلو بدلو مُبَلِّغينو د سُنَّتو ډکو بيانونو ترکيب دې جوړَوي، ځکه چې د جُمعې نمانځه ته راتلونکي ډير کسان داسې وي چې هغوئي عام طور په يوه اِجتِماع کښې هم شِرکت نه کوي، په دې طريقه به داسې خلقو ته هم د دعوتِ اسلامي **مَدَني پيغام** ورسي او د ډيرو خوش نصيبو په زړونو به اثر اوشي او اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم هغوئي به د ګناهونو نه توبه وکړي او پينځه وخته نمونځ ګُزاره به جوړ شي او په هغوئي باندې ستاسو نور **اِنفِرادي کوشش** به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم هغوئي د مَدَني قافِلو مسافِر جوړ کړي او د **دعوتِ اسلامي** په دِيني ماحول کښې به شامِل شي او د سُنَّتو پابند به جوړ شي، څنګه چې تاسو اوس اوليدل چې د معاشرے يو وران کارے او د خپل ژوند نه تنګ کس د مُبَلِّغ **دعوتِ اسلامي** د سُنَّتو ډک بيان او د **اِنفِرادي کوشش** په بَرَکت د مسلمان د قتل کولو نه منع شو او د خودکشۍ اِراده ئې هُم پريښوده او توبه ګار شو.

## په هرو دوو مِنَټو کښې درې خود کشۍ

افسوس نن صبا ”**خودکشي**“ [یعني ځان وژل] څه ډېر عام شوي دي، د دې يو ډېر غټ سبب د عِلمِ دِين نه لرې والے دے، ګیره خَرَوونکو خلقو، يا جَذباتي ماډرن [فيشن پرستو] بے کِيرې ځلمو، د اسکول او کالِج طالب عِلمانو، دُنیاوي تعلِيم يافته خلقو يا بے پرده فيشن پرستو زنانو خُودکشۍ ته زياته مخه کړې ده. تاسو به کله هم نه وي اوريدلي چې فلانکي دِيني طالِبِ عِلم يا عالِمِ دِين يا مُفتي صاحِب يا د شرِيعت پابندې پرده دارې نيکې بي بي خُود کشي وکړله. د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعَتي ادارے **مَکتَبَۃُ الْمَدِیْنَہ** چاپ شوي د 472 صفحو کتاب، ”**بیاناتِ عطّاریہ** (حِصّہ دوم)“ کښې د صفحه 404 نه 406 پورې کښې دي چې: افسوس! د **ګناهونو** د زيات والي او د آخِرت د عذابونو په باره کښې د جَهالت [یعني بے عِلمۍ] په وجه زمونږه په خوږ وطن پاکستان کښې د **خُودکشۍ** واقِعات ورځ په ورځ زیاتیږي د يو اخباري رپورټ مطابق په اګست 2004ء کښې په پاکستان کښې د **خُودکشۍ** 68 واقعې پيښې شوې چې په هغې کښې د کراچۍ اول نمبر وو او دويم نمبر د **مُلتان** والؤ وو. هُم د هغه اخبار مطابق په **دُنیا کښې په هر 40 سيکنډه کښې د خُودکشۍ يوه واقعه پيښيږي!**

## آيا په خُودکشۍ کولو بنده د مصيبته خلاصيږي؟

**خُودکشي** کوونکي شايد دا ګڼي چې مونږ به د مُصِيبته خلاص شو! حالانکه په داسې کولو د مصيبت نه د خلاصيدو په ځائے بنده د **الله** رَبُّ الْعِزَّت د ناراضۍ په صورت کښې په ډېر سخت مُصِيبت کښې ګير شي. قَسم په خُدائے چې! د **خُودکشۍ** عذاب به هيڅ څوک هم برداشت نه کړے شي.

## په وور کښې عذاب

په **حدیثِ پاک** کښې دي: څوک چې په کوم یو څیز **خُودکشي** وکړي [یعني ځان مړ کړي] هغه ته به د جهنّم په وور کښې هم په هغه څیز **عذاب** ورکولے شي.
(صحیح بُخاری ج4 ص289 حدیث 6652)

## هُم په هغه وَسله عذاب

د **حضرتِ** سَیِّدُنا ثابِت بِن ضَحّاک رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه رِوایت دے چې د **الله** پاک د **محبُوب** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډک ارشاد دے: چا چې د اوسپنې په وسله **خُودکشي** وکړه نو هغه ته به د جَهَنّم په وور کښې هم په هغه وسله عذاب ورکولے شي. (صحیح بُخاری ج1 ص459 حدیث 1362)

## ځان د مَرئۍ نه د زندئ کولو عذاب

د **حضرتِ** سَیِّدُنا ابُو هُریره رَضِیَ اللہُ عَنْہُ نه روایت دے چې، **د نبیٔ اکرم** صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د عِبرت نه ډک فرمانِ دے: چا چې ځان د مَرَئۍ نه زندئ کړو نو هغه به د جَهَنّم په وور کښې [مُسلسل] **د مرئۍ نه ځان زندئ کوي** او چا چې ځان په نیزه اووهلو هغه به دجَهَنّم په وور کښې خپل ځان [مسلسل] په نیزه وهي.
(ایضاً ص460 حدیث 1365)

صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## تشه کښوره

**اَمِیرُالمُؤمِنِین** حضرتِ مولائے کائِنات، **عَلِیُّ المُرتَضٰی** شیرِ خُدا رَضِیَ اللہُ عَنْہُ فرمائي: کوم زړه چې نیکۍ لره نیکي اُو نه ګڼي او بدئ لره بدي اُو نه ګڼي نو د هغې

پاسنئ حِصّه به داسې ښکته کړے شي ښنګه چې کڅوړه نسکوره کړے شي او بیا په هغه کڅوړه کښې دننه څیزونه [بهر] وشیندلے شي.
(مُصَنَّف اِبنِ اَبی شَیبَہ ج8 ص667 رقم 124)

## په زړه "ړوند" او د زړه د "نَسکوریدو" معنیٰ

خوږو او مُحترمو اسلامي وروڼـو! واقعي دا سراسر بربادي ده چې د بنده زړه نیکئ لره نیکي او بدئ لره بدي ګڼلو نه اِنکار وکړي. مونږ ته د ګُناهونو نه همیشه بچ کیدل او د **اللّٰه** پاک نه قَلبِ سَلِیم (یعني صحیح او سلامت زړه) غوښتل پکار دي، ګنې اوس تاسو د زړه د تباهئ په باره کښې د مولٰی علی رَضِیَ اللّٰہُ عَنۡہُ اِرشاد وکتلو. یاد ساتئ! د ګناهونو د کثرت [یعني زیات والي] په سَبَب اول زړه "ړوند" شي او بیا "نَسکور" شي او دا د آخِرت د پاره ډیره زیاته د تباهئ خبره ده چنانچه د **دعوتِ اسلامي** د اِشاعتي ادارے **مَكتَبَةُ الْمَدِيْنَه** چاپ شوي د 561 صفحو کتاب "ملفوظات اعلٰی حضرت" صفحه 405 کښې دي چې: درې څیزونه جُدا جُدا دي، نفس، رُوح او قَلب (یعني زړه). رُوح د بادشاه په شان دے او **نفس و قلب** د هغه دوه وزیران دي. **نفس** همیشه هغه د شَرّ طرف ته بوځي او قلب چې تر څو پاک وي نو د خیر طرف ته ئې بَلي او **مَعَاذَاللّٰه** د ګُناهونو د کثرت او خُصوصاً د کثرتِ بِدعات په وجه "ړوند" کړے شي. بیا هغه د حق لیدلو، پوهه کیدلو او د غور کولو قابِل پاتې نه شي خو تر اوسه پکښې د حق د اَوریدو قابِلِیَّت پاتې وي او بیا **مَعَاذَاللّٰه** هغه "نَسکور" کړے شي. بیا هغه نه حق اوریدے شي او نه ئې لیدے شي بِالکل وِیران [یعني برباد] پاتې شي. (بیا اعلٰحضرت رَحۡمَةُاللّٰهِ عَلَيۡه اُوفرمائیل:) قَلب (یعني زړه) په حقیقت کښې هغه د غوښې **مُضغَه** (یعني د غوښې بوټئ) ته نه وائي بلکه هغه یوه "**لطیفهٔ غَیبِیَّه**" [یعني غیبي نازک څیز] دے او د هغې د اوسیدو ځائے دا د غوښې **مُضغه** (یعني زړه) دے د سینې چپ طرف ته، او د نفس مرکز د

نامه نه لاندې دے په دې وجه شافِعِيّه (یعني شافِعِیان) لاس په سِینه تړي چې د "نفس" نه کومې وسوسې راپورته کيږي چې هغه "قلب" [یعني زړه] ته را اُو نه رسي او حَنَفِيّه (یعني حَنَفیان) د نامه نه لاندې لاس تړي.

توفیق نیکیوں کی اے ربِّ کریم دے　　بدیوں سے بچنے والا تُو قلبِ سلیم دے

توفِیق د نیکۍ اے ربِّ کریم راکړې
د بدۍ نه بچ کیدونکے قلبِ سلیم راکړې

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ عَلٰى مُحَمَّد

## معافي به نه ورکولے شي

د **حضرتِ** سیِّدُنا ابُو اَلدّرداء رَضِیَ اللهُ عَنْهُ نه رِوایت دے چې تاسو د نیکۍ حُکم ورکوۍ او د بدو نه منع کول کوۍ ګني په تاسو به **ظالِم بادشاه** مُسَلَّط کړے شي چې هغه به ستاسو په ماشومانو رَحم نه کوي او ستاسو نیک خلق به دُعا کوي خو د هغوئي دعاګاني به نه قبليږي، هغوئي به مُعافي غواړي خو هغوئي ته به معافي نه ورکوله شي. (احیاءُ العُلوم ج2 ص383)

## د بدو خبرو نه منع کوۍ ګني............!

خَلِيفَةُ الْمُسلِمِين حضرتِ سَیِّدُنا ابو بکر صِدِّیق رَضِیَ اللهُ عَنْهُ ارشاد اُوفرمائيلو: اے خلقو تاسو دا آیت لولئ:

يٰٓاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا عَلَيْكُمْ اَنْفُسَكُمْ ۚ لَا يَضُرُّكُمْ مَّنْ ضَلَّ اِذَا اهْتَدَيْتُمْ ؕ (پ7، المائدہ: 105)

ترجمۂ کنزُالعِرفان: اے ایماندارو! تاسو د خپلو ځانونو فکر وکړئ، چې کله تاسو په هدایت ئې نو ګمراه کیدونکے به ستاسو هیڅ نقصان هم ونکړے شي.

(يعني تاسو دا ګڼئ چې مونږ ښځپله په هِدايت يو نو د ګُمراهه خلقو ګُمراهي زمونږ د پاره د نقصان باعِث نه ده او مونږ لره يو ګمراه د ګُمراهئ نه د منع کولو ضرورت نشته) ما د **خوږ مَدَني آقا** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم نه دا فرمان اوريدلے دے چې خلق که بده خبره اُووِيني او هغه بَدَله [يعني منع] نه کړي نو نزدې ده چې **الله** پاک هغوئي ټول په عذاب کښې اَخته کړي. (سُنَن اِبنِ ماجه ج4 ص359 حديث 4005)

د دې حَدِيث پاک نه لاندې په "مِراٰةُ الْمَناجِيح" کښې دي چې: د قُرآنِ کريم د دې آيت:


"يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا عَلَيْكُمْ اَنْفُسَكُمْۚ لَا يَضُرُّكُمْ مَّنْ ضَلَّ اِذَا اهْتَدَيْتُمْؕ ترجمهٔ كنزُالعِرفان: اے ايماندارو! تاسو د خپلو ځانونو فکر وکړئ، چې کله تاسو په هدايت ئې نو ګمراه کيدونکے به ستاسو هيڅ نقصان هم ونکړے شي.." نه به خلقو دا معنٰى اغسته چې **اَمْرٌ بِالْمَعْرُوْف وَنَهْيٌ عَنِ الْمُنْكَر** (يعني د نيکئ د حُکم کولو او د بدئ نه د منع کولو) ضرورت نشته بلکه بنده ته د خپلې اِصلاح کوشش کول پکار دي، د نورو خلقو ګناهونه هغه ته هيڅ نقصان نه شي رسولے، حضرتِ ابُوبکر صِدِّيق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دا غلط فهمي لرې کړه او د **رَسُولُ الله** صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د دې ارشادِ کِرامي په حواله ئې اُوفرمائيل چې کله خلق ګناه اُووِيني او د هغې د بدلَولو [يعني منع کولو] کوشش ونکړي نو هغوئي ټول په عذاب کښې اخته کيږي.

د دويم رِوايت نه دا خبره واضِحه کيږي چې د دې بدلَولو تعلُّق د طاقت سره دے يعني چې د بدئ بدلَولو [يعني منع کولو] والا خلق د دې خبرې د طاقت لرلو باوجود هغه بَدَله [يعني منع] نه کړي نو هغه به هم د عذاب حقدار وي.
(مِراٰةُ الْمَناجيح ج6 ص507)

د ذِکر شوي آيت نه لاندې **صدرُ الافاضِل** حضرتِ علّامه مولانا سَيِّد محمَّد نعيمُ الدِّين مُراد آبادي رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: مسلمانانو به د کفّارو په محرومئ

باندې افسوس کولو او هغوئي به په دې خبره خفه وو چې کفّار په عِناد (یعني دُشمنۍ) کښې آخته دي او د اسلام د دولت نه محرومه پاتې شو. **اللّٰه** پاک د هغوئي (یعني مسلمانانو) تَسَلِّي اُوفرمائیله چې په دې کښې ستاسو هیڅ ضرر (یعني نقصان) نشته، تاسو د **اَمْرٌ بِالْمَعْرُوْف وَنَهْیٌ عَنِ الْمُنْکَر** (یعني د نیکۍ د حُکم ورکولو او د بدئ نه د منع کولو) د فرض ادا کولو خپله ذِمّه واري پوره کړې ده تاسو به د خپلې نیکۍ جزا مومئ. **عبدُاللّٰه** بِن مُبارک (رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه) فرمائیلي دي: په دې آیت کښې د **اَمْرٌ بِالْمَعْرُوْف وَنَهْیٌ عَنِ الْمُنْکَر** د واجِب کیدو ډیر تاکید شوے دے ځکه چې د خپل فِکر کولو دا معنٰی ده چې د یو بل خبر دې اخلي، د نیکو ترغِیب دې ورکوي او د بدو نه دې منع کوي.

## د راروانې هفتې رساله





ISBN 978-969-722-687-0

01082506



فیضان مدینہ، محلہ سوداگران، پرانی سبزی منڈی کراچی

UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net